پالیسي

آزاده لاسرسی

# د وردګ پوهنتون د علمي څېړنو پالیسي

پوهاند دوکتور خیبر سیفي[۱*]؛ پوهندوی حزب الله بهیر[۱]

۱. د بیولوژۍ څانګه، د ښوونې او روزنې پوهنځی، وردګ پوهنتون، افغانستان

* مسئول لیکلوال برېښنالیک: khaibar.saify@gmail.com، د تلیفون شمېره: ۹۳۷۹۸۸۳۸۳۸۴+

**د مقالې تاریخچه:**

د مقالې ترلاسه کولو نېټه: ۱۴۰۴/۱۲/۲

د مقالې منلو نېټه: ۱۴۰۴/۱۲/۲۸

د مقالې خپرولو نېټه: ۱۴۰۵/۲/۳۰

**ددې مقالې استناد:**

سیفي، خیبر او همکاران. (۱۴۰۵). د وردګ پوهنتون د علمي څېړنو پالیسي. وردیکا علمي څېړنیزه د ټولنیزو علومو ژورنال، ۱ (۱):۱۴۵-۱۵٦

دغه ژورنال د وردګ پوهنتون په چوکاټ کې د لوړو زدکړو وزارت د رسمي جواز پر اساس فعالیت کوي.

CC BY

وردګ پوهنتون علمي څېړنیز نشرات (۱۴۰۵)

زموږ سره اړیکی: ۹۳۷۴۵٦۰٦۳۱۷+

**ایمیل**: rjd@wu.edu.af

**آدرس**: سیدآباد ولسوالی، ټوپ دبنته میدان وردګ ولایت-افغانستان

**لنډیز**

د وردګ پوهنتون د علمي څېړنو پالیسي د پوهنتون د څېړنیزو بنسټونو پیاوړتیا، د علمي فعالیتونو منظم مدیریت، او د هېواد د علمي او ټولنیز پرمختګ لپاره د باکیفیته او دوامداره څېړنیزو پایلو د رامنځته کولو په موخه ترتیب شوې ده. دا پالیسي د یو جامع ستراتېژیک چوکاټ په توګه د نوښتګرو بنسټیزو علمي او عملي څېړنو لپاره مناسب چاپېریال رابروي او پوهنتون په داخلي او سیمه‌ییزې کچه باوري علمي مرجع ګرځوي. دا پالیسي د معیاري څېړنیز چاپېریال رامنځته کول، د اصولو او کړنلارو رونېتیا، د څېړنیزو اخلاقو ساتنه، اکاډمیکه ازادي، داخلي او نړیوالو همکاریو پراخول، او څېړنیزو پایلو ته د ازاد لاسرسي ملاتړ په موخه ترتیب شوې ده. سربېره پر دې، دا پالیسي د څېړنیزو مرکزونو، لابراتوارونو، برېښنایي کتابتونونو، کرنیزو فارمونو او نوې ټکنالوژۍ د کارونې لپاره لومړیتوبونه ټاکي، تر څو د څېړنو کیفیت او اغېزمنتیا لوړه کړي. دغه سند پر علمي صداقت، شفافیت، مسوولیت‌پذیرۍ او د بشري حقونو درناوي باندې ټینګار کوي او څېړونکو ته مالي، فني او مشورتي ملاتړ برابروي. همدارنګه پوهنتون ته د داخلي او نړیوالو څېړنیزو پروګرامونو د اغېزمن ګډون فرصتونه برابروي. د وردګ پوهنتون د علمي او محصلانو چارو معاونیت او د څېړنو آمریت ژمن دي چې د دې چوکاټ په رڼا کې د څېړونکو وړتیاوې لوړې کړي، د څېړنو فرهنګ پیاوړی کړي، او څېړنیز فعالیتونه د داخلي اړتیاوو او دوامدار پرمختګ له موخو سره په بشپړه همغږۍ پرمخ یوسي، تر څو پوهنتون د هېواد په علمي، اقتصادي او ټولنیز پرمختګ کې مهمه ونډه ولري. دا پالیسي د وردګ پوهنتون د علمي شورا د (۸) مه ګڼه پرېکړې له مخې د۱۴۰۴/۱۲/۱۸ کال د نېټه تصویب شوې ده.

**کلیدي ټکي**: افغانستان، څېړنې، پالیسي، پوهنتون، وردګ.

سيفي، خيبر . (۱۴۰۵). وردیکا د ټولنیزو علومو علمي څېړنیز ژورنال، ۱(۱):۱۴۵-۱۵۶

WNJS

آزاده لاسرسی

پالیسي

# Wardak University Scientific Research Policy

**Khyber Saify[1*]; Hizbullah Bahir[1]**

[1]*Department of Biology, Faculty of Education, Wardak University, Afghanistan*

[2]*Department of , Horticulture Faculty of Agriculture, Wardak University, Afghanistan*

[*1]*Corresponding Email:* khaibar.saify@gmail.com, *Phone Number :* +9398838384

**Article History:**
Received: 21. 02.2026
Accepted: 29. 03.2026
Online First: 20. 05.2026

**Citation:**
Saify, K., et al. (2026). Wardak University Scientific Research Policy. *Wardika J of Soc Sci* 2026;1(1):145-156

Email: rjd@wu.edu.af

This is an open access article under the Higher Education license

CC BY

**Copyright**:© 2026 Published by Wardak Universty.

## Abstract

The Scientific Research Policy of Wardak University has been developed to strengthen the university's research institutions, ensure the systematic management of academic activities, and generate high-quality and sustainable research outcomes that contribute to the scientific and social development of the country. This policy serves as a comprehensive strategic framework that provides a supportive environment for innovative, fundamental, and applied scientific research, and positions the university as a reliable academic reference at both national and regional levels. The policy aims to establish a standardized research environment, ensure transparency in principles and procedures, safeguard research ethics, promote academic freedom, expand national and international collaboration, and support open access to research outputs. In addition, it sets priorities for the development and effective use of research centers, laboratories, electronic libraries, agricultural farms, and modern technologies in order to enhance the quality and impact of research.This document emphasizes academic integrity, transparency, accountability, and respect for human rights, while providing researchers with financial, technical, and advisory support. It also creates opportunities for the university to participate effectively in national and international research programs. The Deputy Office for Academic and Student Affairs of Wardak University, together with the Research Directorate, is committed to strengthening researchers' capacities, promoting a strong research culture, and conducting research activities in full alignment with national needs and sustainable development goals, so that the university can play a significant role in the country's scientific, economic, and social progress. This policy was approved by the Academic Council of Wardak University in accordance with Decision No. (8) on 9 /3/2026.

**Keywords:** Afghanistan, Research, Policy, University, Wardak

**سريزه**

په اوسنۍ عصري ټولنه کې د علم، پوهې او څېړنيزو فعاليتونو ونډه د ټولنيزو، اقتصادي او فرهنګي بدلونونو په رامنځته کولو کې بنسټيزه ګڼل کېږي، ځکه چې څېړنه نه يوازې د نوښت او پرمختګ سرچينه ده، بلکې د ټولنيز سوکالۍ او اقتصادي ثبات په هڅو کې هم مهم رول لري **(Altbach, Reisberg, & Rumbley, 2020).** ښکاره ده چې د علمي پرمختګ بهير په تاريخ کې يو ډول نه دی پاتې، بلکې د علمي نظرياتو، ټکنالوژۍ او بشري فکر له پراختيا سره بدلون موندلی دی**(Mokyr, 2018).** په افغانستان کې د لوړو زده‌کړو په برخه کې په تېرو کلونو کې د څېړنو په برخه کې جدي ستونزې موجودې وې، چې د علم توليد په برخه کې محدوديتونه، د څېړنيز چاپېريال نيمګړتياوې او د ټولنيزو ستونزو د حل لپاره د عملي اقداماتو په وړاندې يې يو شمېر خنډونه رامنځته کړې وو**(UNESCO, 2021).** د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت اوس مهال په ګڼ شمېر پوهنتونونو کې د څېړنو معاونيتونه او آمريتونه رامنځته کړي، چې د داخلي او نړيوالو معيارونو سره سم علمي مقالې خپروي او د علمي څېړنو د پرمختګ بنسټونه پياوړي کوي. دغه پرمختګونه، چې د تحصيلي بنسټونو د دوامداره څېړنيزو فعاليتونو د پراختيا او د نړيوالو معيارونو سره د سمون په لور ګامونه اخلي، د څېړنېزې بودجې او تمويل د ستونزو په حل کې هم د پام وړ رول لري، څرنګه چې پوهنتونونه د ځان بسيا لپاره مناسب څېړنيز تمويل ته اړتيا ده، معاصرې څېړنې ښيي چې د پوهنتونونو د ځان بسيا د تمويل خوندي کول د علمي توليد او نوښت د پياوړتيا لپاره بنسټيز اهميت لري**(Saify, 2021)** . په نړيواله کچه، پوهنتونونه په څو نسلونو وده کوي، چې د مدرک محور څخه د څېړنې محور، د صنعت سره همغږۍ، د کارآفرينۍ او تخصصي پوهنتونونو ته رسېږي **(World Bank, 2022).** دغه پرمختيا د پوهنتونونو د رول پراخوالي ته اشاره کوي، چې څېړنه، نوښت او علمي همکارۍ د پوهنتون ماموريتونه په نړيواله کچه تعريفوي**(Harman & Treadgold, 2007)** . په اسلامي ارزښتونو ولاړ پوهنتونونه مکلف دي چې د ټولنې د سوکالۍ، انساني ارزښتونو او اقتصادي

پرمختګ لپاره د پوهې، تخصص او اخلاقو د لوړ معیارونو سره سم علمي تولید وکړي (**Iqbal, 2009**). پوهنتونونه باید د ټولنیزو ستونزو د دقیق تحلیل، د نوښت د ملاتړ، د علمي کیفیت د لوړولو، او د انساني او اخلاقي معیارونو په پام کې نیولو سره څېړنیز فعالیتونه ترسره کړي (**Barnett & Coate, 2005**). د افغانستان د لوړو زده‌کړو د پرمختګ لپاره اړینه ده چې د څېړنې چاپېریال پیاوړی او علمي مدیریت رامنځته شي، ترڅو پوهنتونونه وکولای شي د ټولنې د ستونزو لپاره سمه علمي او عملي ځواب وړاندې کړي (**UNDP, 2020**). د همدې اړتیا په نظر کې نیولو سره، د وردګ پوهنتون د علمي او محصلانو چارو معاونیت او همدارنګه د علمي څېړنو آمریت پرېکړه وکړه چې یوه جامع، عملي، ستراتېژیکه او راتلونکې‌محوره پالیسي ترتیب کړي، تر څو د څېړنې بنسټونه پیاوړي، د نوښت ملاتړ وشي، د علمي اخلاقو خوندیتوب تضمین شي، او د علمي کیفیت لوړه کچه ترلاسه شي. دغه پالیسي د پوهنتون د ماموریت، ساحوي اړتیاوو، اسلامي ارزښتونو او د افغانستان د لوړو زده‌کړو وزارت د قوانینو په رڼا کې ترتیب شوې ده.

### د پوهنتون لرلید

وردګ پوهنتون غواړي د افغانستان په کچه یو پوهنیز او اکاډمیک مرکز وي چې د اسلامي ارزښتونو، کلتوري پوهاوي، اقتصادي پرمختګ او علمي خدمتونو په وړاندې کولو کې اغېزمن رول ولري او د ټولنې د پرمختګ لپاره کیفیتي علمي کادرونه وروزي .

### د پوهنتون ماموریت

پوهنتون د لوړو زده‌کړو او علمي کادرونو د روزنې لپاره یو معتبر اکاډمیک بنسټ دی، چې خپلې زده‌کوونکي په ملي او اسلامي روحیه سمبالوي، ترڅو هغوی وکولای شي د ټولنې په خدمت کې په مؤثره توګه برخه واخلي او د پایداره پرمختګ لپاره اړین مهارتونه او ارزښتونه ترلاسه کړي.

**د پالیسي موخې**

د علمي پرمختګ پیاوړتیا: د څېړنې، نوښت او ابتکار لپاره په ټولو علمي برخو کې مطلوب چاپېریال رامنځته کول.

د علمي اخلاقو تضمین: د څېړنو د شفافیت، عدالت او مسوولانه کړنلارو د رعایت تضمین.

د علمي همکارۍ پراخول: د ملي، نړیوالو او څورشتهاي څېړنیزو همکاریو هڅونه او ملاتړ.

د څېړنیزو پایلو ته ازاد لاسرسی: ډېټا، د معلوماتو، او څېړنیزو نتایجو ته د آزاد او مؤثر لاسرسي ملاتړ.

د څېړنیزو منابعو او زیربناوو ملاتړ: د څېړنو د ښه ترسره کېدو لپاره مالي سرچینې، لابراتوارونه، څېړنیز مرکزونه او اړین امکانات برابرول.

**د څېړنیزو موضوعاتو لومړیتوبونه**

۱ .**د اړتیاوو پېژندنه:** د سیمه ییزو، داخلي او نړیوالو اړتیاوو د پیژندنې له لارې د واقعي ستونزو او ننګونو معلومول.

۲ .**د بنسټیزو او ستراتېژیکو څېړنو ټاکنه:** د پوهنتون ستراتېژیکو اهدافو او ملي پراختیایي موخو په رڼا کې د څېړنیزو فرصتونو او مهمو څېړنیزو ساحو مشخص کول.

۳ .**لومړیتوب لرونکي څېړنیز موضوعات:** د اقتصادي ودې، روغتیا، چاپېریال، ټکنالوژۍ او نورو ملي اړتیاو په برخو کې په څېړنو تمرکز کول.

۴ .**د ټولنې د سوکالۍ او عملي ګټو څېړنې:** څېړنې د ټولنیزو ستونزو د حل او د خلکو د ژوند د کیفیت د لوړولو لپاره لارې روښانه کول.

۵ .**د نوښت او ابتکار ملاتړ:** د نوښتونو او ابتکاري څېړنو له لارې د ټولنې لپاره عملي او اقتصادي حل لارې وړاندې کول.

۶ .همغږي او تطبیق: څېړنې د هېواد او سیمې اړتیاوې په پام کې نیولو سره، د لوړو زده کړو وزارت د ستراتېژۍ او اهدافو سره سم ترسره کېږي.

**د علمي څېړنو اخلاقي اصول**

۱ .ریښتینولي او روڼتیا: څېړونکي باید د څېړنې په ټولو مرحلو کې بشپړ ريښتينولي مراعت کړي، په معلوماتو، تجربوي پایلو او راپوروړنو کې د هر ډول تحریف یا غلطۍ شوونې څخه ځان وساتي.

۲ .د انسانانو د حقوقو درناوی: په څېړنو کې باید د ګډونوالو او څېړنیزو موجوداتو ټول حقوق رعایت شي، هر فرد ته درناوی وشي، او د لابراتواري او تجربوي څېړنو پر مهال اخلاقي معیارونه په کلکه مراعت شي.

۳ .علمي او څېړنیزه ازادي: څېړونکي باید په ازادانه توګه خپلې څېړنې ترسره کړي، په داسې حال کې چې د اسلامي اصولو، ملي قوانينو، او د لوړو زده‌کړو وزارت د لارښوونو سره سم عمل وکړي.

۴ .مسوولیت او شفافه راپور ورکونه: څېړونکي باید د څېړنې ټولې پایلې، که مثبت وي که منفي، په واضح او مسؤلانه ډول خپرې کړي، ترڅو علمي ټولنه او ټولنه په حقیقت پوه شي.

۵ .د همکارۍ او اخلاقي همغږۍ ټینګښت: د څېړنو په ډلو کې باید ټول غړي د اخلاقي معیارونو، متقابل درناوي، او علمي رښا له اصولو سره سم همکاري وکړي.

**د څېړنیزو منابعو تخصیص**

۱ .د بودجې ټاکنه: پوهنتون متعهد دی چې د څېړنیزو پروژو لپاره مناسب مالي منابع ځانګړي کړي، په ځانګړي توګه په نوښتګرو او څورشته‌ای څېړنو کې، په شرط چې اړوند چارواکي د بودجې تخصیص تایید کړي.

۲ .د څېړنیزو زیربناوو برابرول: د پوهنتون علمي معاونیت او پوهنځیو سره په همکارۍ لابراتوارونه، کتابتونونه، داخلي او نړیوالې علمي مجلې، اړین تجهیزات او سافټویرونه برابرول، ترڅو د څېړنو ترسره کول په غوره ډول ممکن شي.

۳ .د څېړونکو ملاتړ: څېړونکو ته فني، مالي او مشورتي مرسته وړاندې کول، ترڅو د څېړنیزو پروژو پرمختګ تضمین شي او د کیفیت لوړ معیارونه مراعت شي.

**د څېړنیزو پایلو لاسرسی او خپرونه**

۱ .ازاد لاسرسی: د پوهنتون د ملي او نړیوالو څېړنو ټولې پایلې باید روښې، شفافې او د عامو خلکو لپاره لاسرسي وړ وي، پرته له هغه محدودیتونو چې قانوني، اخلاقي یا امنیتي اړخونه لري.

۲ .علمي خپرونې او کنفرانسونه: څېړونکي هڅول کېږي چې خپل علمي موندنې په معتبره علمي مجلو کې خپرې کړي او په ملي او نړیوالو کنفرانسونو کې یې وړاندې کړي، څو علمي ټولنه له نوښتونو او پرمختګونو خبر شي.

۳ .د فکري ملکیت ساتنه: د څېړنو د ټولو برخو په ګډون د پایلو خپرونې کې باید د فکري ملکیت او کاپي‌رایت حقونه په کلکه رعایت شي.

۴. د څېړنې پایلو ته لاسرسی او عملي کارونه: د څېړنو پایلې په منظم او شفاف ډول د اړوندو سکتورونو، شریکانو او خلکو سره شریکېږي، تر څو پرېکړې د علمي شواهدو پر اساس وشي او د پالیسی جوړونې، د پراختیایي پروګرامونو د اغېز ارزونې، او د ټولنیزو ستونزو د حل لپاره ګټور معلومات برابر کړي. د لاسرسي د زیاتوالي لپاره پایلې په بېلابېلو بڼو لکه راپورونه، علمي مقالې، ورکشاپونه، او د شریکانو لپاره ځانګړي سمینارونو له لارې وړاندې کېږي، ترڅو د علمي شفافیت، معلوماتي تبادلې او ټولنیز ګډون تضمین شي.

**د داخلي او نړیوالو څېړنیزو همکاریو ملاتړ**

۱ .د څېړنیزو شبکو رامنځته کول: د پوهنتون د علمي او محصلانو چارو معاونیت او همدارنګه علمي څېړنو آمریت هڅه کوي چې د ملي او نړیوالو همکاریو اصولو او قوانینو ته په کتو، د علمي شبکو جوړېښت او نوې څېړنیزې اړیکې رامنځته کړي، ترڅو د څېړنې نوښتګر چاپېریال پراخ شي.

۲ .په نړیوالو څېړنیزو پروژو کې ګډون: څېړونکو ته ملاتړ ورکول کېږي چې د ملي او نړیوالو څېړنیزو پروژو برخه شي، د نړیوالو سرچینو، معلوماتو او تجربو څخه په ګټه اخیستنې سره د خپلې څېړنې کیفیت او اثر زیات کړي.

۳ .دوامداره علمي همغږي او تبادله: د ملي او نړيوالو څېړنيزو همکاريو د پاينښت لپاره هڅونه کېږي، په دې ډول چې څېړونکي خپل معلومات، نظريات او پايلې په منظم ډول شريک کړي، ګډې څېړنيزې پروژې پرمخ يوسي او د پوهنتون علمي ظرفيت پياوړی شي.

**د علمي څېړنو څارنه او ارزونه**

۱ .کورنۍ څار: د پوهنتون د علمي څېړنو آمريت د اړوندو معاونيتونو او پوهنځيو په همکارۍ داسې سيستمونه جوړوي چې د څېړنيزو پروژو کيفيت، ريښتينولي او سموالي ته دوامداره څارنه وکړي.

۲ .منظم او دورهای ارزونه: په پوهنځيو کې د څېړنو د پرمختګ او کيفيت د لوړولو لپاره د ټاکلو وختونو په اساس ارزونې ترسره کېږي، څو ډاډ ترلاسه شي چې څېړنې د پوهنتون ستراتېژيک اهداف تحققوي او علمي معيارونه پوره کوي.

۳ .راپور ورکونه او اصلاح: د څېړنو د ارزونې پايلې په شفافه توګه راپور کېږي او د اړتيا په صورت کې اصلاحات او لارښوونې وړاندې کېږي، څو د څېړنيزو فعاليتونو اغېزمنتيا تضمين شي.

**د څېړونکو روزنه او وړتيا لوړول**

۱ .د څېړونکو مسلکي روزنه: د پوهنتون د علمي او محصلانو چارو معاونيت د څېړنو آمريت سره په همغږۍ هر کال د پوهنتون د تجربه‌کارو استادانو په همکارۍ د څېړونکو لپاره مسلکي روزنيز کورسونه جوړوي، چې پکې د څېړنيزو اخلاقو، د معلوماتو مديريت، د ډيټا تحليل، د علمي مقالو ليکلو او د څېړنې د کيفيت لوړولو مهارتونه شامل دي.

۲ .د محصلانو وړتيا لوړول: د محصلانو ملاتړ کېږي ترڅو د څېړنې مهارتونه زده کړي، په څېړنيزو پروژو کې برخه واخلي، او د علمي ابتکار د پراختيا فرصتونه ترلاسه کړي، په همکارۍ د محصلانو چارو اړوندو معاونيتونو سره.

۳ .لارښوونه او همغږي: د څېړونکو او محصلانو روزنه په داسې ډول رامنځته کېږي چې د څېړنيزو فعاليتونو کيفيت، نوښت او دوامداره پرمختګ تضمين شي.

**د رسمي مجلسونو تایید**

د پوهنتون د علمي څېړنو پالیسي د څېړنیزو فعالیتونو د کیفیت د لوړولو لپاره، د څېړنیزو اخلاقو په رعایت او د لوړو زده‌کړو وزارت د قوانینو او اصولو په رڼا کې ترتیب شوې ده، ترڅو د داخلي او نړیوالو علمي همکاریو زمینه برابره شي.

دغه د څېړنې پالیسي د وردگ پوهنتون د رسمي علمي او اداري مراجعو له لوري د لاندې پروتوکولونو پر بنسټ طی مراحل او تصویب شوې ده:

۱ .د پوهنتون د څېړنو او علمي مجلې کمیټې د (۱۱) شمېرې پروتوکول له مخې، چې د ۱۰/۱۲/۱۴۰۴ هـ.ش نېټې په غونډه کې تائید شوېده؛

۲ .د پوهنتون د پلان او پالیسی کمیټې د (۱۲) شمېرې پروتوکول له مخې، چې د ۱۷/۱۲/۱۴۰۴ هـ.ش نېټې په غونډه کې تائید شوېده؛

۳ .د پوهنتون د علمي شورا د (۸) شمېرې پروتوکول له مخې، چې د ۱۸/۱۲/۱۴۰۴ هـ.ش نېټې په غونډه کې تائید شوېده.

د پورته یادو شوو رسمي مراجعو د تائید پر اساس، د پوهنتون د علمي څېړنو آمریت، د پوهنځیو د څېړنیزو کمیټو غړي، او د علمي کادر ټول غړي مکلف دي چې د دې پالیسی ټول اصول، مقررات او لارښوونې په بشپړ ډول مراعت او عملي کړي، ترڅو د پوهنتون علمي، څېړنیزې او اکاډمیکې موخې په اغېزمن، معیاري او منظم ډول ترلاسه شي.

**اخځلیکونه**

Altbach, P. G., Reisberg, L., & Rumbley, L. E. (2020). *Trends in global higher education: Tracking an academic revolution*. Brill Sense.

Barnett, R., & Coate, K. (2005). *Engaging the curriculum in higher education*. McGraw-Hill Education.

Harman, G., & Treadgold, R. (2007). *Third mission and the university in the development of regional economies*. Higher Education Management and Policy, 19(1), 1–26.

Iqbal, M. (2009). *Islamic perspective on education*. International Institute of Islamic Thought.

Mokyr, J. (2018). *A culture of growth: The origins of the modern economy*. Princeton University Press.

Saify, K., & Hasanzoy, M. S. (2025). A Brief Overview of Securing Research Funding for Universities Self-Sufficiency. Kunduz University International Journal of Islamic Studies and Social Sciences, 244-253.

UNDP. (2020). *Human development report: Afghanistan edition*. United Nations Development Programme.

UNESCO. (2021). *Higher education and sustainable development: Afghanistan country report*. UNESCO Publishing.

World Bank. (2022). *Innovation and university generations in emerging economies*. World Bank Publications.